
مغروره هلک
((سیدادریس سادات))
ناول
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مغروره هلک ناول

- لیکوال:سیدادریس"سادات"
- کیسه:دوو ملګرو ملګرتیا
- Email:king.adil.rs@gmail.com
- دسادات اثار:دننګرهارمینه,بی پروا انجلۍ,رنځورخامار,دتورخم لاراوواده,ددرد تصویر,دسپین غر زخمي مرغۍ.
- "تاسی کولای شی زموږنور کتابؤنه دعمومی کتابتون وایبسایټ څخه ترلاسه کړی"
- "اوهم ځانونه زموږ دواتساپ ګروپ سادات کتابتون کی اډ کړی مننه "
- https://chat.whatsapp.com/KXxowf0dlHRDKRmRR1QHSz
- دامو لینک دی که هر ډول مشکل وو موږ سره په لاندی شماره واتساپ کی غوښتنه کولای سی
- 0731363201

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

## زما دژورنالیزم صنف ټولو خوږو صنفیانو ته ځکه چی نن زما دژورنالیزم دپای ورځ ده او غواړم داورځ می ددی ناول لامله تل پاتی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

جنرال صاحب وويل :خانو وس راته دخپل ژوند قیصه
. تیره کړه وبه ګورو چی څه څه وایی.
ومی ویل جنرال صاحب زما قیصه ډیره دخوندونو نه ډکه ده
خو خوخه دی نده چی لګ څه شیدی او نور خواړه هم
ورسره راوړی چی خوند ورنه واخلو.
کسانو ته یی ویل شیدی راوړه.
. یوه یوه پیاله یی راوړل ویل یی خا مهربانی
لومړی می ورته کړه جنرال صاحب که زما قیصی ته دی
زړه تنګیږی بیا یی مه اوره خو یقین لرم که وادی وریده بیا
به یی پرینږدی ویل یی مهربانی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

پیل

.دمازیګر وړانګی دچمن په هره خوا خوری وي

سنګ ته می دصفا اوبو غټ نهر روان وو هاخوا ترینه

. دشاتواوشیدو نهرونه بهیدل

زموږ دبنګلی په طرف دهر یو نهر نه یو یو سیند راتیر

.شوی وو

.بنګله کی مو دسرواو اوسپینو زرو ښښتی لګیدلی وی

. زه شین چمن کی داوبو ننداری ته ناست وم

دهری ویالی اوبه به ډیری ژر پنا کیدی اوبه دومره صافی

.وي

چی مافکر کاوه چی هیڅ اوبه ندی لاندی تیږی خو پکی

. دورایه معلومیدی

.یوی ښکلی حوری می غیږ کی سر ایښی وو

مریَ یی داسی معلومیده لکه څوک چی په ښیښه یی بوتل کی

.یاقوت اومرجان واچوي

. دښکلا حدپری تمام وو

خولی ته می دویلو لپاره نور څه رانغلل خو یو شعرمی

ـ وړاندی

کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خه بس حوری وی مزی وي

په جنت کی داقیصی وي

هلته قتل متل نشته
نه به توری سترگی سری وي
نه بمونه نه بمبار شته
نه سیاه زلفی دیار شته
هلته سری سترگی شي توری
خه غلمان به درپسی وي
په جنت کی داقیصی وی
دشرابو خی پیالی وي
ددردمندو خی مزی وي
. خپل خوبونه به یی هیر شي
خپل دردونه به یی هیر شی
چی الله ته مخامخ شي ج
نعمتونه به تری هیر شی
بیا نوپوهه علم نشته
بیا نو جهل بی اسری وی
په جنت کی داقیصی وی
خه طاقت به درسره وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

**خه قامت به درسره وی**
**بی پیسو هر څه خرڅیږی**
**غریبان به خه ماړه وی**
**څوک چی مخکی دټولی شی**
**لوی کاروان به ورپسی وی**
**.په جنت کی داقیصی وی**
.داوخت می نیا په ملا کی خه مضبوط سوک را کړ
. چی راکیناستلم
. ویل یی :لمونځ درنه قضا شو ځوانیمرګ شی
. خوب کی هم شعرونه وایی
. اوهو سخت خفه شوم
.داخوب و
. یاره خو نو ابی لګ بدی پرېښی وم
. جنت می خوب کی ولیدلو
ویل یی:زازاته چی داقضا شوي لمونځونه راګرځوی پدی
. باندی جنت نه ګټل کیږی
. سوړ اسویلی می وایست ولاړم تشناب ته اودس می وکړ
. خپل لمونځ می ادا کړ
خدای تعالی نه می دعا وغوښته چی خدایه ته خو می سګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کال طب ته کامیاب کړی.
. یو کال می ورته ضایع کړ
. ډیر درسونه می ویلی خدایه ته یی هځی فضول مه بیایی
. نیا می راپسی راچغه کړه
وهلکه امجده نن دی د کانکور امتحان دی ژرژر رازه چی
چای وڅښی اوپه وخت ځان وروړسوی.
دسهار چای کی یی راته پراټی پخی کړی وی.
. دشیدو چای سره می وڅښل
نور وخوځیدم دننګرهار پوهنتون په لور یوریکشه وان سره
می خبره وکړه پوره یونیم سل افغانۍ یی غوښتلی.
ماورته وویل:استاذه ګزاره وکړه ننګرهار پوهنتون خو
دومره لری ندی اخر یی ویل زه چی ته دومره ټینګار کوی
یو سلګونی به درنه واخلم رازه کښینه.
. ورسره کیناستم داسی نیم ساعت کی یی وروړسولم
. اووه بجی یی خودلی وی چی امتحان به شروع کیږی
زه اووه نیمی ورغلم تر څو امتحان شروع وی اوسیده زه
. ورته کښینم
خو داسی نه وه اووه نیمی بجی خو لاپوهنتون کی هیڅوک
هم نه ښکاریدل ایله بیله اته نیمی بجی یوڅه خلک راروان

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

**شول**

. زموږ دمکتب ملګری هم ټول راغلي وو

. کښيناستو ګپ شپ باندی مو وخت تیر کړ

. کنه داوخت چیرته په اسانۍ تیریده

. پوره لس بجی یی امتحان شروع کړ

. ماته هم یو استاذ پرچه راوړه

. داستاذ یوه سترګه نه وه نو ځکه موږ خوشحاله شو

. چی زه خه دی لګ څه نقل خو به تری وکړو

. شاوخوا ټولو ملګرو خبره وکړه

چی که چیرته موقع برابریده یو نیم سوال خو به یو بل ته وایو.

دیادونی وړ ده چی زموږ امتحان دادبیاتو پوهنځی په ساحه . کی و

خو نه پوهیږم چی دچشی ادبیاتو وو پښتو وو یا دري یا انګلیسی

. امتحان شروع سو

ددی استاذ سربیره دری استاذان مو نور هم سرته ودریدل

. چی چا به سر وچتولو پرچه به یی ورځینی اخیسته

امتحان می ورکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.

. خپل خواری خو می پکی خه پوره وکړه

چی بیرون راووتم دمکتب ملګرو زنګ راوواهه چی راشه یارو نن دزاهد دکوژدی مبارکی ته ځو موږ ټولو ملګرو ته یی ډوډۍ کړی وه.

. دپوهنتون نه سیده دزاهد دوی کور ته لاړم

. ملګرو مو محفل ګرم کړی وو

. ډیک یی راوړی وو نڅاوی او غال مغال یی جوړ کړی وو

. هر ملګری به وار په وار دنڅا لپاره پاسیده

. زما نمبر چی راورسید زه یی هم پاسولم

خپل دزړه براس مو وباسه.

داهر څه چی خلاص شول ډوډۍ مو وخوړه نو مسیح وویل

. امجد وایی چی یو شعر می لیکلی تاسی ته به یی واوروي

بیابه ځو ریښتیا هم دوی نڅاوی کولی ما یو شعر ولیکلو.

. ویل یی ارشادارشاد

ما داسی پیل کړ.

یوه شپه په خوب کی تللی وم جنت ته

ښکلی حوری وی شراب وو اومزی وی

یوی حوری له یو کونجه غږ راوکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

جنتی بچیش دنیا کی څه قیصی وی
مال جنت کی خو مرګ نشته چی درزار شم
اودسرو سرو اننګو بلا دی واخلم
چی له شوقه درته مړ شم بیا ژوندی شم
دسرو شونډو او لیمو بلا دی واخلم
که دخپل وطن قیصه می درته وکړه
تکی سری بدی شي ښکلی سترګی دواړه
دچاپو او دبنګښو قیصی پریګده
دشرابو دخایسته ویالی په غاړه
ما چی څو داویل ستونی می راډک شو
چی ورځ سور اور شي او شپه توره بلا شي
دافغان حال چی سړی ته وریه زړه شي
. خپلی حوری ته جنت کی په ژړا شي
ټولو خپل لاسونه دویاړ په پار وپړکول او هر ملګری دخپل
.خپل کور په لور روان سو
زه هم راغلم خپل کور ته نیا می راته وویل :امجده بچیه
. زرزر کوه هله چی دوکان درباندی ناوخته کیږی
ما په ننګرهار کی دموبایلو مستری سره کار کاوه دهغی
. شاګرد وم
شکر دخپل جیب خرڅ او دنیا می ټول حاجتونه پری پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیدل

ما ورته وویل :ابۍ ورځم خو یو ځل باید دمور
.اوپلار دنیکه او دورونو په قبر باید سلام واچووم
.ویل یی سمه ده ابۍ دی درنه ځار شه ورشه
دټولو دقبرونو سرته ودریدم .بیا لاړم دپلار په قبر می سینه
.کیښوده
پلار به می اکثر ویل چی بچیه که چیرته سخته وه دربانډی
رازه زما په سینه سر ایږده انشالله ډیر راحت به مومی
ریشتیا هم ډیر راحت وو پکی ځکه وس ورته هر سهار
.رازم او په سینه ورته سر ګدم
زما په ژوند کی صرف زه وم او یوه می نیا وه
پلار می زما دنیکه یو ځوی وو ځکه نو پلار می غوښتل ډیر
زامن ولری تر څو دسږو کمی پخپل کور کی محسوس
. نکړي
. خو خدای ته چی څه منظوره وی هماغسی کیږی
.موږ پوره پنځه ورونه یو پلار او یو نیکه و
. نیکه می دپلار نه ډیر ځوان معلومیده
. یوه ورځ دوی ټول تللی ول کابل ته تر څو خه چکر ووهی
زما دمکتب امتحانونه وو ځکه ورځینی پاتی شوی وم.کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

. کی یی خی چکری وهلی وی
ماته به می مور او پلار تصویران رالیګل واورو باندی یی
. خی لوبی کولی
راته به یی مسیج کی وویل بچیه کاش ته هم راسره وای خو
.زه دلته امتحانونو کی سخت بوخت وم
پوره پنځه ورزی یی کابل کی زما څلورو مجردانو ورونو
. سره تیری کړی
.هرکله چی بیرته راتلل نو زما دغم ورځی شروع سوی
په ماهیپر کی یی موټر ښویدلی وو او لاندی راغورځیدلی
. وو
یو تن هم پکی ژوندی نه وو پاتی زما په کور په یو وخت
.زما دکورنۍ اووه مړی راننوتل
خه وو ګاونډیانو یی راسره په دفن کولو کی پوره پوره
. همکاری وکړه .ټول مړی مو خاورو ته وروسپارل
. دټولو قبرونو سرته ودریدم سورة الملک می تیر کړل
. او تری روان شوم
که څه هم قبرونه وو خو بیا می هم پری تر ډیره حده مینه
. ماتیدله
زما ماما ډیر ظالم سړی و

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.
زموږ دوکان یی رانه په زور واخیست زما دکور نه یی
ددوکان اسناد ویوړل همداسی ټولی ځمکی یی پخپله نامه
. ثبت کړلی
زموږ اول نه دموبایلو دوکان وو خو هغه رانه ماما په زور
. واخیست
.ما یی مقابله کولای شوه خو پلار می دارازده کړی و
چی بچیه که مشران دی وژني هم ته ورته څه مه وایه ځکه
.دی سره ستا شخصیت خرابیږی
هغی خالی مشران خودلی وو خودا دمشر سره بیا ماما می
. هم وو
. لکه دپلار مو ورسره وخت تیر کړی وو
. ددی دامر نه مو هیڅکله هم سرغړونه نشوه کولای
ځکه می نو په بل دوکان کی وظیفه پیدا کړه شکر زموږ
. ژوند تیریږی
یو څو ورځی مخکی راغلی وو ددی کور اسناد یی هم
غوښتل خو ما اول نه دکلی مشران دماما دظلم نه خبر کړی
. وو
. ځکه ورپسی ټول راغلل اوجرګی ته یی کیناوه
خو جرګی ته یی هم خپله ملامتی ورنکړه خو شکر وس مو

(c) ketabton.com: The Digital Library

. دکور سره کار نلری
خو داخل راته مسیح ویلی دی که راغی زنګ راووهه درزم
.
دخپل پلار اومشرانو ورونو سره او جرګی ته یی کینوم چی
. دغم نه یی خلاص شی یاره
. خدای دی ورسره خه وکړی
. ددی خبر یی هم زه ډیر پوروړی یم
. نو ځکه اوس نه راتلو او کم از کم کور خو می خپل وو
پوره شپږ میاشتی وروسته می نتیجه راغله چی کابل
.پوهنتون کی طب پوهنځي ته کامیاب شوی وم
.زموږ په صنف کی صرف زه طب ته بریالی شوی وم
. ځکه می پخپل کور کی ټولو ملګرو ته پروګرام ونیوه
. ټول راغلل او خپله خوشحالی یی څرګنده کړه
. دیو څه وخت وروسته پوهنتونونه شروع سول
خدای خبر په ماما می څه شوی وو خو پدی ورځ پخپله
.راغی زما ټول جایداد یی بیرته زما په نوم کړ
او ویل یی:بچیه ماته ببننه وکړه داستا حق دی که ددی نه
وروسته درنه چا خپل حق په زور غوښتو نو ماته وایه
انشالله زه یی درته برابروم

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.
. نور نو دماما دعذاب نه خلاص شو
دهمدی ورځی په سبا دپوهنتون دشروع کیدو لومړۍ ورځ
. وه
ما دضرورت ټول لوازم دپوهنتون دشروع کیدو لپاره تیار
. کړل
دمسافرۍ په نیت له کوره راووتم ځکه پوهنتون می کابل کی
.وو او همالته باید ورسره پاتی هم شم
دنیا ښځه می مخه خه واخیسته نیا می راته وویل:بچیه
میاشت یو وار ضرور رازه چی په لیدلو می دی سترګی
.مړیږی
ما ورته وویل:انا جانی ته هیڅ غم مکوه
. انشالله زه به خپل کار په کابل کی شروع کړم
.ستا پوښتنه به ډیره کووم یوه ګړۍ به می هم نه هیریږی
مخه می ورسره وکړه انا می راته دکور په دروازه کی
ولاړه تر اخره یی زما قدمونه څارل تر هغی پوری یی
. راپسی کتل چی زه ورځخه پنا شوم
کابل ته راغلم لومړۍ ورځ می دپلار یو ملګری خواته
ورغلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.
. ترڅو شپه هم ورسره تیره کړم اوپوښتنه به یی هم وکړم
کور یی په ارزان قیمت کی وو راته ویلی یی وو احمدشاه
.بابا مینی سره نږدی دی
.هلته ورپسی وګرځیدم دقدوس کاکا پښتنه می خلکو نه وکړه
. کور یی راته په ګوته کړ
دروازه می ټک ټک کړه ځو شیبی وروسته قدوس کاکا خپله
. دکور ددروازی مخی ته راغی
. خه ټینګ روغبړ مو سره وکړ
.کور ته یی ډیر نور میلمانه هم راغلی وو
ما ویل زه خه دی چا سره به کینو لګ څه خبری به وکړو
.ساعت به مو تیر شي
.خو چی کور ته ورننوتم بیل ډول ماحول جوړ وو
. په کور کی یی سرې میلمانه ناست وو ښځو یی خدمت کاوه
. قدوس کاکا دخپلو ټولو ملګرو سره ستر مات کړی وو
. هغوی ته یی ورونه ویلی وو
خو پدی نه وو خبر چی شیطان په همدی نومونه انسانان تیر
. باسي
زه چی ورغلم سترګی می هاخوا دیخوا اړولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.

. تر څو ګناهګار نشم داخلک خو خدای اوقران شرمولي دی

.هڅی نه ددوی عذاب زما په سر راکینوزي

داسی نه وه چی چا به انجونو ته نه کتل بلکی ټولو به یو بل

.ته کتل او هر رقم فساد روان وو

کابل وو کنه داشیان خو به پکی زرور ول ما په همدی نیمه

.شپه می دقدوس کاکا سره خدای پامانی وکړه

او لاړم دیو ملګری خواته ماخو ویل چی زه دپلار ملګری به

. راتینګ کړم

. خو داخلک دملګرتیا خلک نه وو

زه لاړم دخپل ملګری اباسین کور ته شپه می هغوی کره

.یوړه

دقدوس کاکا دکور ټوله قیصه می ورته تیره کړله ویل یی

. داڅه وایی

ماته بدی ویلی وای زه به هم درغلی وای دی خو به ډیر

. خوند کړی وای

هههههههههه

دکړس خندا می وکړه ورته می وویل:اباسینه یاره موږ پښتنو

سره داندی مناسب خدای تعالی چی څه راته په قسمت کی

لیکلی وی هماغه به رارسیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

.

. ولی هڅی خپل عزت له خاورو سره خاوری کړو
ویل یی خا سمه ده وس ویده شه سبا به بیا نشی راپاسیدی
دخونی څراغ مو بند کړ.
داشپه مو ډیر په راحت سره په خوب تیره کړه.
په سبا یی خپل پوهنتون ته لاړو.
پوهنتون کی مو په لومړی ورځ انجونی او هلکان یو ځای
. ناست وو خو ترتیب یی جوړ کړی
. انجونی شاته ناستی وی او هلکان مخکی
. دپوهنتون مدیر خپل بیان ټولو محصیلینو ته اورولو
زما څنګ ته یو وچ کلک ځوان ناست وو پین شرټ یی
. اچولی وو
توری چشمی یی په سترګو دمدیر خواته یی دغرور نه په
. ډک انداز کتل
واقعا څهره یی هم دتعریف وړ وه سره نرم اوملایم ویختان
. یی درلودل لستوڼی یی رابډ وهلی وو
په پتلون کی یی دغشو په شان دری شنی کربښی تیری شوی
وی.
مدیر صاحب خپلی خبری کولی سخت سخت الفاظ یی
استعمال کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.
اوولاړ هر کله چی مدیر صاحب دتالار نه ووتو دی هلک مخ زما په طرف راکوړ کړ .
غوړ کی یی راته وویل:یارو دامدیر هر کال همدا خبری کوی خو څوک پری سر هم نه خوږوی زه تیر کال دخپل ورور سره راغلی وم .
مکمل همدا خبری یی وکړی .
خو ټول کال می ورور دکوم استاذ په خبره غوږ هم ندی ګرولی هههه .
وییی خندل زه هم ورسره موسکی شوم .
ویل خا بیادره ستا نوم څه دی اود کوم ولایت یی ما ورته په غلی اواز وویل:زما نوم امجد دی او دننګرهار نه راغلی یم .
ویل یی ډیر خه ننګرهاری پښتانه خو ډیر باجرته خلک دی ته ولی داسی بی جرته یی .
ماورته وویل:هڅی نن می لومړۍ ورځ ده .
ټولو پښتنو ملګرو زموږ خبرو ته غوږ ایښی وو ټولو وخندل .
ویل یی داموږ داسی لس کاله دپوهنتون کی تیر کړی .
زموږ هم لومړۍ ورځ ده کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

.
هلک وویل:زما نوم شاهد دی زه هم ننګرهاری یم خو دډیر
وخت نه کابل کی اوسم.
ما ورته وویل خا ډیر خه شاهده ننګرهار کی دکوم ځای یی
وویل یی زه دخوګیانو یم .
خا ډیر خه
وویل یی ګوره امجده برو دلته فارسیوانان ځانونه مړیر نیغ
نیغ کوی .
کار ورسره مه لره خو که کار یی درسره لرلو ماته زنګ
وهه .
ددوی په مزپ زه پوهیږم.
ما ورته وویل :وروره هیڅ مشکل نشته ولی به راسره کار
لری .
اباسین امجد شاهد عزیز او بختیار مو دپری ملګری شو.
تر اوسه پوری خو می دمینی هیڅ له منځه تللی وو.
خو چی دوی ملګری شول .
نو یوځل بیا می دمحبت دخوږو نه څکه وکړه .
نیامی هیڅکله هم غم ته نه وم پریخی خو چی ملګری نه وی
دوستان نه وی نه کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.

ترخو پوری به می ننګرهار ښار کی دخفګان شپی اوورځی سبا کولی .

موږ به هره ورځ چی پوهنتون نه رخصتیدلو کابل کی به مو چکری وهلی .

خو یوه ورځ یوه انجلۍ راپسی راغله راته ویل یی زه دشاهد سره ډیره مینه لرم خیر دی ته شاهد ته ووایه که زړه یی لږ نرم شي .

ی ورځ شاهد پوهنتون ته نه وو راغلی.

ما ورته وویل:سمه ده خو بیا راته داسی دټول پوهنتون مخ کی مه رازه .

زه یو پښتون یم اوبیا ننګرهار کی اوسیږم دخپل ځان بی عزتی نه شم برداشت کولای.

ویل یی سمه ده خو شاهد ته ضرور ووایه .

سم دلاسه شاهد پسی ورغلم دهغه کور ته کور کی نه وو زنګ می ورووواهه ویل یی یاره زه شفا خانه کی یم ما وویل خیر شه څه ستونزه خو به نه وی زه همدا اوس حرکت درکووم درزم .

ویل یی راشه همدلته نږدی نه به درسره خبری وکړم .

ټیکسی والا سره می خبره ونکړه سیده شفا خانی ته یی بوتللم

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.

ما ورته وویل ځو روپی شوی ویل یی دوه سوه اوه دوه سوه
. داخو دوه قدمه ځای وو کنه یاره ناوخته کیده
ځکه می پیسی ورکړی او شفا خانی ته ننوتم شاهد په انتظار
خونه کی ناست وو ورته ومی ویل :یاره څه شوی دی ویل
. یی ستا انا بیماره وه ته بی غیرته خو یی پښتنه نکوی
داخو خه وو چی ماته سنبل زنګ وواهه چی تور پیکی ترور
. بیماره ده او امجد ته ووایی چی راشی
ما ورته وویل:وس څنګه ده ویل یی خه ده خو دومره ولی
بی غوره یی یاره
اوته څه کار لری دلته چی یوه انا دی ده هغه دی هم له یاده
. وزي
خجالته شوم ورته غاړه می ورکړه افرین والا دننګرهار نه
.یی زما نیا کابل ته رارسولی وه
ما ورته وویل:داچا راوسته ویل یی کاکا می راتلو هغه ته
می وویل :هغی راوسته خه دی چی سنبل پر وخت خبر
. راکړ
اوستا شماره ولی بنده ده
دموبایل بټن چی می کیکاړله ریشتیا هم ګول و

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.
. چیرته بیټری به یی خوځیدلی وه
سنبل ورسره نه وه راغلی خو سنبل اوشاهد ته می زړه
. دعاګانی وکړی
. ماته دشاهد په شان یار بیا لاس ته نه راته
ویل یی ګوره امجده سړی چی خپل کور پریږدی
.ما ورته وویل:صبر صبر صبر بیا می خبره له یاده وزي
. تاسره ثنا مینه لری خو ته یی پسنتنه هم نکوی اخر ولی
ویل یی :یاره پریږده داخبری هغه تاندی اوریدلی
. ژوند خو دیارانو سره خوند کوی
.پریږده دجانان په مور دی بوره شی
داسی یارانی ماته ډیری پیدا کیږی یاره خو زما دلاسه نه
. کیږی
اونه می هم داضمیر منی چی دچا دخور او لور سره دی
. ناروا اړیکی وساتم
داوخت ډاکټر راغی ویل یی:مریض ته یوه ستن دزرو روپو
. لګی
.ما شاهد ته وویل:یاره دومره پیسی خو ماسره نشته
ویل یی خوله بنده که ګوستاخه یوازی ستا نیا څه مریضه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

. زما هم دنیا نه کمه نده
وه ته خو زما ورور یی یاره دورونو تر منځ داحسابونه چا
. کړی
. پوره پنځوس ستنی یی ورته وکړلی
. دنیا می ډیره موده هسپتال کی تیره شوه
زما او دشاهد هم بل کار نه وو شپه او ورځ به خپلی نیا ته
.هسپتال کی ناست و
. خالی پوهنتون ته به تلو نور به مو ورځ همدلته وه
اباسین هم رانه پاتی وو هغوی ملګرتیا کوله خو دخوشحاله
. ورځی دغم دورځی ملګری نه وو

.ریشتیا هم چی دغم دورځی ملګری ډیر کم وی
شاهد زما انا خپل کور ته بوتلله او لکه دمور خدمت به یی
. کولو
. دواړه به دپوهنتون نه وروسته ورتللو
. حال احوال به مو یی اخیسته
.نیا می ډیر لګ وخت که ډیره تازه شوه
. شاهد به ورته تازه فروټ دخوراک هر څه راوړل
ځکه نو هغه هم خوشحاله وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

.

یوه ورځ چی پوهنتون رخصت شو یوی انجلۍ راته ورقه
. راوړله څه یی پکی لیکلی و
ویل یی دمهربانی له مخی داورقه که مو شاهد ته ورکړه
. سخته زیاته به خوشحاله سم
ما ورقه شاهد ته یوړه خو هغی ورقه څیری کړه ماته یی هم
. توند الفاظ استعمال کړل
زه کیناستم په زنګنو می سر کیښود راپسی راغی ویل
. یی:ګوره یاره تاته خه معلومه ده
زه چا سره داسی اړیکی نه پالم ته نو ولی تر ما داسی
. کاغذونه رارسوی
.خه پوهیږی چی پدی زه خفه کیږم
هماغی انجلی په سبا بیا کاغذ راکوو خو ما ورته
وویل:وبخۍ ددی تر مخه چی هغه ورقه څیری کړی زه به
. یی څیری کړم
ویل یی تاسی دواړه ملګری دومره خپلی ځوانی ته مغروره
. یاست ته به وایی چی هیڅوک هم داسی ځوانی نلری
ننګرهار پوهنتون کی خو څه فارسی وانان کم ندی هغوی
. ستاسی نه په سل چنده خه دی
هغه مغرور هلک ملګری ته دی ووایه چی که زه دی ازار

(c) ketabton.com: The Digital Library

. کړم قسم په خدای که بیا خه ورځ وګوری
. سلګی یی وهلی او ولاړه زه حیران شوم
چی خدای دی موړ داسی بلا سره نه اړوی ګنی دی سره به
. بیا څه کوی
شاهد ورسره خبری لا ندی کړی او داوایی چی ازار به
.ورته وکم
دی کی نو دشاهد غریب څه قصور دی هغه خو دانجونو
سره خبری ددی لپاره نکوی چی پاک دامنې انسان دی خو
.داخلک ورته مغروره وایی او دګناهګار تاپه پری لګوي
. ددی ورځی په سبا چی صنف ته راغلو
هماغه انجلۍ چی پرون یی ماته خط راکوو دشاهد لپاره هغه
. یو بدرنګه فارسیوان سره ناسته وه
خو بدرنګه فارسیوان لوفر وو صنف کی به یی سګرټ
.وهل
. په هیچا یی هم رایه نه وهله
ماته شاهد وویل :هلکه هغه بله ورځ درته همدی انجلۍ خط
درکړی ووکنا
ما ورته وویل:هو
ویل یی وس یی وګوره زما ددغی کار دلاسه دښځو دذات نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

. نفرت دی
.نه غواړم چی هیڅ ښځه ولرم اوژوند ورسره وکړم

ما ورته وویل:یاره بلا ورپسی رازه چی ځو ما اوشاهد په
.ټوکو ټکالو روان وو کور ته
.اباسین دوی هم راسره خه ګپ شپ مو جوړ وو
یو وخت کی یو څو نفر راووتل ټول یی یو دم څو سوکان
. کش کړو
.چی راودریدم ګورم هماغه فارسیوان و
. شاهد نو خپل فایټ شروع کړ
. خو یی سخت ووهلم
زه یو عادی سړی وم په ژوند کی می کله هم جنګ نه وو
. کړی
. خو نن می باید خپل ځان راپورته کړی وای
ځکه نو مقابل طرف هم وهل وخوړل موږ هم خو اخر کی
. خلک راغلل او خلاص یی کړلو
. داوږدو سنو والا فارسیوان شاهد ته ګوته خوځوله
. شاهد هم پیکی دمخ نه وچت کړ
لاس یی ورته وخوځولو چی نور دی دلته ونه وینم

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.
. زموږ پښتو پوری یی ریشخند هم وواهه
. اوولاړل دسبا لپاره مو پلان جوړ کړ
. چی نن خو دوی برید وکړ
. باید سبا پری موږ برید وکړو
خو ددی پته راته نه وه چی څومره لوی مشکل به تری جوړیږی.
. دسبا لپاره مو وسلی هم پیدا کړی
شاهد ویل چی جنګ کی دګوتی خوزولو معنا داده چی سبا به ګورو .
. ماسره یی خه تمرین وکړ
داشپه می ټوله کلپ کی تیره کړه.
. پوهنتون ته چی ورغلو
. اصلحه یی پوهنتون کی نه پریښوده
شاهد وویل :یارانو داکار ماته پریګدی انشالله
. زه جو ننباسم
ورغلم سیکورټی ګارډ ته یی زرګونی جیب کی کیښود ګارډ یو ته هم ونه ویل چی تالاشي راکړئ.
نیغ ننوتو استاذ لګیا وو درس یی ورکولو موږ هم خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

. ځوکیو ته ځانونه ورسول
وس نو خالي موږ بهانه غوښته خو دساعت تر اخره پوری
. بهانه پیدا نشوه
اخر کې یو فارسیوان ګوته پورته کړه ویل یی:استاذ
.د37هفت ماندی
. سیده ورپسی شاهد ورپاسیده
ورته ویی ویل :استاذ باندی دانتقاد کولو حق تاسی
. فارسیوانانو ته چا درکړ
. دغټو ځنو والا فارسیوان راپاځید
عقی توب یی کاوه شاهد ته یی خوله رانږدی کړه تر څو یی
. مرال ورخراب کړی
. شاهد یو ټینګ سوک پدا خوله وواهه
هغی خوانه فارسیوانان په شاهد راغلل دی خوا نه پښتانه په
فارسیوانانو ورغلل نور پوهنتون چی وکتل زموږ پوهنځی
کی جګړه ده نو دخلاصی لپاره راغلل خو هر نفر همدی ته
په تمه وو چی کله به جنګ کیږی هماغه وو چی ټول
. پوهنتون ونښته
. زموږ ملګرو ډزی وکړی
خو زما دومره زړه نه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

. غټ جنګ وشو
خو فارسیونان مو پخپل کار پخیمانه کړل۔
.مخامخ جنګ مو خه په نره وکړ
ډیر تلفات یی لرل ددی قیصه ټول افغانستان کی بیا مشهوره
. شوه کیدای شي تر تاسی هم رسیدلی وی
. دهغی نه وروستو موږ سره فارسیوانانو چیړ پنج ونکړ
.بس یو رقم مو پوهتون ختم کړ
.ما اوشاهد به لکه دورونو ژوند تیراوه
شاهد راته کابل کی دکار زمینه برابره کړه ما به هم کار کاوه
.او شاهد به دپلار ګټلی ته ناست وو
پلار چی به یی څه ګټل هغه به یی خوړل۔
.پوهنتون مو ختم کړ
دشاهد پلار شاهد اوماته قوی واسطه پیداکړه اودکابل په
صحت عامه کی یی دعاجل خونی اودعملیات واټ کښی یی
.ونیولو
په لګ وخت کی ډیرو خلکو وپیژندلو خلکو به راباندی
.دخپل ځان نه زیات باور درلود
دپیسو روغتونونه ډیر وو خو چی په طبیب دچا باور
.اواعتماد نه وی تر هغی څوک نه ورزی
موږ نوم ځکه لږ وخت کی زیات مشهور سو

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.
. چی ما اوشاهد به په ګډه عملیات ته تللو
.او نه پوهیږم زه چی به هر وخت دشاهد سره یوځای شووم
نو ما ته به ځان ډیر قوی معلومیده ځکه نو زموږ طاقت
ددوو نفرو وو.
.او فکر او زړه مو یو وو
هر کله چی یو نفر ددوو کسانو طاقت ولری نو ډیر څه
کولای شي.
.موږ هم کټ مټ همداسی وو
. نو ځکه به ډیرو کمو ځایونو کی پاتی راتللو
هره ورځ سهار شپه هر وخت چی به زنګ راغی موږ به
ځان عملیات ته وررساوه.
.نیا می هم ډیره خوشحاله وه
. دشاهد دوی په کور کی دشاهد یو پلار و
.مور یی دشاهد په راوړلو کی خپل روح حق ته سپارلی وو
زما دنیا سره هم شاهد خو شحاله وو هم یی پلار ځکه دشاهد
دپلار کور کی هم یو مشر پیدا شو.
.او مشران خوخلک پخپل کور کی له خدایه غواړی
دشاهد پلار سمارټ سړی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

.

. شنی غټی سترکی سپینه څهره توره ګیره یی وه

. دشاهد پلار پخپله داطلاعاتو او کلتور ریس وو

ځکه نوواسطه یی هم ډیله وه

دورځو نه یوه ورځ شاهد ماسره روان وو روغتون ته نیا می راته زنګ وواهه ویل یی امجده بچیه چی راتلی ځان سره لږ څه سودا راوړه.

سمبل راروانه ده کابل ته

.ما ورته وویل:څه ابۍ سمبل په کابل کی څه کوي

. ویل یی هو هغه رازی

.فکر کی ولاړم چی دسمبل به څه کار وي

. چی مور کره رازی

. لس ثانیی به نه وی تیری چی شاهد ته زنګ راغی

.شاهد چی وکوت نمبر نا پیژانده وو

.دموبایل لوډ سپیکر یی غوږ ته نږدی کړ

. دسلام اواز راغی

شاهد ورته جواب ورکړ وعلیکم سلام تاسی شه یاست ورور مقابل طرف نه خبر راغی چی تاسی شاهد یاست شاهد ورته وویل هو

ولی څه خبره ده ویل یی چی دلته مور دکابل سیند په خواکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

. یو زخمي مینتلی
چی ټپ یی ډیر سخت دی زخمی ویل چی زموږ موبایل کی
دشاهد نمبر ته زنګ ووهی اونور بی هوشه شوی دی.
موبایل مو چی یی خلاص کړ تاسی ته می زنګ وواهه
. شاهد حیران شو چی دابه څوک وی
خو زه پوه سوم چی دشاهد پلار چا د کوم راپور په سر
. ویشتی دی
امکان کومی رسنۍ ته به یی دترهګریزی ډلی راپور
ورکاوه.
شاهد می ځان سره سیده ټیکسی ته پورته کړ.
او دکابل سیند په لوری رهي سو.
خو چی قسمت خراب شي هر څه بیا درته برعکس کیږی.
. دټیکسی مخکی دواړه نفر غله وو
څه چی راسره جیب کی وو ټول یی رانه دتوفنګچی په زور
. واخیستل
په پښو مو تر کابل سینده پوری ځان ورساوه چی ومو کوت
. د شاهد پلار ژوندی وو
داوبو نه یی راوباسلی وو ټپونه یی ورته تړلی وو.
شاهد دشاوخوا خلکو نه موبایل وخیست روغتون ته یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

. ټیلیفون وکړ
. ما دغنی کاکا ټپونه مساج کول
په لږ وخت کی امبولنس راورسید غنی کاکا مو ورپورته کړ ورسره کیناستو اکسیجن مو ورته ولګولو.
خه وو ټپونه یی تړل شوي و
غنی کاکا داسی ټوپونه وهل لکه دیو پسه دوجود نه چی ساه وزي.
روغتون ته ورسیدلو په تیز سرعت سره مو یی تذکره روانه کړی وه.
ټولو خلکو موږ ته راکتل چی دا به څوک وی چی دومره مشهور ډاکټرانو روان کړی دی پخپله اوتر خپل واټه یی رسوي.
دشاهد رنګ تک سور اوړیدلی و پلار یی هیڅکله یی هم داسی دبی وسۍ په حالت کی نه وو لیدلی دشاهد دسترګو نه دپلار په مخ یی یوه اوخکه تویه شوه.
پلار چی دخپل زوي حالات وکتل نو ځان یی لګ څه قابو کړ.
شاهد دداسی مصیبتونو پر وړاندی ډیر وړوکی زړه درلود

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.

ځکه چی نه یی وو لیدلی ریشتیا هم چی دپلار په شتون کی زوي باچا وي .

شاهد هم ټول عمر دپاچاهۍ ژوند تیر کړی وو .

ځکه یی داسی سختي اوس نشوه زغملای .

په لږ وخت کی تر عملیات خونی ورسیدلو موږ دعملیات ټول لوازم واچول .

خو شاهد ماته وویل :ته کار مه لره زه به ډیر په احتیاط ورنه ګولۍ وباسم .

تر څو پلار می وژغورم .

شاهد چی ورنژدی شو بیرته راشاته شو یو دم یی په ژړا کی وویل :امجد وروره زه بیریږم هڅی نه خپل پلار راڅخه مړنسي .

خیر دی ته راسره مرسته وکړه .

ماته هلته ددی خبری معلومات وسول چی موږ دنورو خلکو خیټه څومره په بی پروایی څیرله او څه رقم به مو انسانان زخمي کول .

خو موږ به بی پروایی زیاته کوله ددی فکر به نه وو چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

. انسان مړ نشی ځکه زموږ پخپل ځان خه پوره باور وو
اخر دکابل پوهنتون نه چی کوم ډاکټران خلاص شوی وی
اوبیا په ټول خار کی دومره شهرت ولری ولی به نه پوهیږی
.
خو شاهد دخپل پلار دعملیات په وخت کی یی پخپل ځان ټول
. باور ختم شو
. چاړه او قیچی یی ماته راکړه
. خو زما هم دوسی نه پوره نه وه
. ځکه چی غنی کاکا ماته هم دپلاره کم نه وو
زموږ یو څه وخت په همدی لانجه وه چی غنی کاکا ټوپونه
. شروع کړل
.شاهد خپله ورکی لګیا شو
. ګوتی یی رپیدلی مردکی یی په نوسی کی نشو رانیولۍ
مردکی ورنه ټیله شو!او دشاهد پلار غنی کاکا خپل روح حق
®ته وسپاره
دشاهد سترګی کړیغی وپړسیدلی خوله یی وازه پاتی شوه
څهره یی دعاجزۍ اخری حد ته ورسیدله شاته روان شو
. شاتنۍ تذکره کی مخامخ پریوت
ما ورمنډه کړه خپی می ورته وموخلی نرسانو ته می غږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.وکړ چی اوبه راوړي
اوبه چی می ورته په مخ وپاشلی شاهد راپاسید سر یی زما
تتر پوری کلک وموښلولو دبی وسی داخیری حد ژړا یی
.وکړه
.ددرد ژړا په هر انسان تأثیر لری
. زما هم دسترګو نه بی دریغه اوښکی تویی شولی
.ما داحالت لیدلی وو
. ځکه دشاهد په حالت زما نه هیڅوک هم ډیر خه نه پوهیده
.نرسانو دغنی کاکا جسد دعملیات خونی نه راوباسلو
. او مرده خانی ته یی بوتللو
دغنی کاکا په جنازه کی زیاتو خلکو ګډون وکړ .زما ماما هم
. راغی
هر کله چی مو جسد کور ته ویوړو نو نیا می ورته سخت
. وژړل
زما نیا او مادشاهد دوی په کور کی پوره پنځه کاله تیر کړی
.وو
. په کور کی دنیا سره می سمبل هم ناسته وه
.اوف خدای خبر په داسی وخت کی دی بلا دلته څه کول
خو دشاهد دوی ډیر زیات خپلوان وو ماما زامن کاکاګان او

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

. دتره زامن ځکه خو یی نو کور هم ډک وو
.شاهد دیوی تیږی په سر په زنګنو سر ایخی وو
زه ورسره څنګ کی کیناستم ورته ومی ویل:خلک وایی چی
.مړی ننګرهار ته ویوسو اوکه همدلته کابل کی یی خخ کړو
سر یی دزنګنو راوچت کړ سری سترګی یی له اوخکو ډکی
.وی
. دګریوان نه یی ونیولم یو کلکه سپیړه یی په دامخ ووهلم
ویل یی وسه پوری دی یی په کور کی ډوډیخوړله ټول عمر
.چی دی دچا نمک خوړلی ته هغی ته وس مړی وایی
ما سر ټیټ ونیولو دیو څه ځنډ څخه وروسته یی وویل پلار
.می وصیت کړی وو ما ننګرهار ته یوسۍ
.او هلته می خاورو ته وسپارۍ
شاهد ریشتیا هم ډیر خفه وو زه هم پوه شوم چی خبره یی
.دډیر خفګان نه دخولی څخه راووته
.ځکه می ورته څه ونه ویل
دغنی کاکا جسد مو ننګرهار ته یوړو هلته مو خاورو ته
.وسپارلو شاهد په ذهني رنځ اخته شو
هر وخت کی به یی فکر کولو چی دی دخپل پلار قاتل پخپله
دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.
.ما به چی هر څومره تسلی ورکړه بیایی هم نه منله
. یوازی ژوند ورته خه بریښیده
خو په یوازی توب کی یی ځان خواړه۔
. ماسره یی هم رویه بیخی تغیره شوه
روغتون کی چی به عملیات ته ودرید نو
لاسونو به یی لړزه پیل کړه خوله به پری راماته شوه اخر به
یی ماته وسایل راکړل پخپله به په ډکو سترګو له عملیات
. خونی ووت
یوڅه وخت می ځان سره روغتون ته بوته خو وروسته بیا
.راسره نته ویل به یی چی روغتون ته نور زه نشم تلای
هلته زه فکر کووم لکه ټول وسایل هره قیچی هر کټ او هر
.اسپنج ماته ښکنځل کوي
.بیابه زه یوازی روغتون ته تلم
یو څه وخت تیر شو خو یوه شپه یی ماته زنګ وواهه چی
کابل کی باغ وحش خوا کی یو هوټل دی هلته راشه کار
.درسره لرم
. زه په نیمه شپه روان شوم واوره وریده
. نیم ساعت کی تر باغ وحش پوری ورسیدم
خواکی یی یو لوی هوټل وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.په ښیښو پوخل سوی وو
.زه سختی تبی نیولی وم
. خو دشاهد لپاره راغلم
.دننه په هوټل کی شاهد ناست وو قیلون یی په میز ایښی وو
.ګوتڼونه یی ورڅخه کول
.چی زه یی وکتم نیغ راولاړ سو
ویل یی یاره په موقه دی ګیر کړم هههه
.مخامخ ورته په چوکی کښیناستم خه وو هوټل هم ګرم وو
ماورته وویل :خا اول خو راته داووایه چی پدی بلا دڅه
.وخت نه رااوړیدلی یی
ویی خندل ههههه
ویل یی:یاره دا خو زه داپنځه کاله کیږی چی څښم
.ماورته وویل نو مانه دی ولی داخبره پټه کړی وه
. ویل یی یاره تاته پته ده داڅیز دګټی نه تاوان زیات لری
. زه خو په دی بلا هڅی هم اوړیدلی یم
.ته می پری ولی رااړولای وای
خا اصلی خبری ته به راشو
یاره زه غواړم لاړ شم انګلستان ته کاکا می راپسی ویزه
رالیګلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.

ماورته وویل:یاره داخه وایی ته چی زی نو زه به څه کووم.

داخو به ډیره سخته شی.

ویل یی یارو:امکان لری قسمت به زموږ یوځایتوب تر

همدی ځایه غوښتو .

وس باید موږ یوازی شو.

ما ورته وویل نه یاره نو ستا څه مشکل دی چی ته زی دلته

خو تاته هر څه رسیږی کنه .

خلک خو چی هغی ملکونو ته زی ددی لپاره زی چی پیسی

وګټي او خپله کورنۍ وساتی.

نو ستا کورنۍ خو موږ یو شکر موږ ته خو هر څه رارسی.

ویل یی بس یاره ددی وطن هره ګټه هره ونه او هر سړک

راته داسی ښکاری لکه ښکنزل چی راته کوی.

ما په دی بی ننګه خار کی خپل پلار دلاسه ورکړی .

اودخپله لاسه می مړ شوی دی.

نور نو نه غواړم چی ته راسره پعذاب شی امجده یارو ښښنه

کوه بازی وخت کی انسان ددرد لامله خپله خوږه

ملګرتیاهیروی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

که څه داسې خبره مې له خولې څخه وتې وي چې ته پرې
خفه سوې وې نو ببښنه کوم .
زه به انشاالله دسې شنبې په ورځ ځم .
ما ورته وویل:نو یاره پدې اخیرې شپو کې خو کور ته راشه
کنه زما نیا دې ډیر یادوي ویل یې.
ابۍ به زما عمه کره راولې هلته به یې وګورم .
زه نه غواړم چې هغې کور ته بیا لاړ شم هغې کور کې زما
پلار ماته مخې ته مخې ته کیږي .
ماورته وویل:سمه ده ضرور به یې درولم پخیر
لا هم واوره وریده زه راروان شوم خپل کور ته راغلم.
دنیا مې سخته تبه وه.
په منډه لاړم دواخانې نه مې څه درمل راوړل.
درمل یې وخوړل خوب پرې غلبه وکړه.
زه هم لاړم خپل ځای کلاري بیده سوم.
سهار وختې مې خپل لمونځ ادا کړ نور نو خپله بړستن کې
ننوتم سوچونو په مخه واخیستم چې دابه څنګه کیږي.
ایا شاهد به په بهر کې خوشحال وي کنه همداسې سل اوزر
رقم فکرونه مې ذهن ته راتلل
دسهار رڼاګانې چې په هرې خوا خورې سوې زه راپاسیدم

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.تر ځو کړکۍ خلاسی کم او نیا مې یخه هوا تنفس کړی
.نیا مې غږ راوکړ امجده بچیه دیخوا راشه
. چی ورغلم نیا مې په بد حال وه
څه یې ویلی نشو خو ماته یې وویل:غیږ کې مې کلکه ونیسه
.
. تر ځو په ارام سره ساه ورکم
کا همداسی وکړل
نیا ته مې وویل ګوره ابۍ زه به تا هندوستان ته بوزم پاکستان ته به لاړ شو نورو ملکونو ته بدی بوزم تر ځو ستا تداوی
. وکړی
زه به دخپل سر بازی ولګوم مګر تاته به خوشحالی دروبښم
.
ویل یې نه بچیه بس زما ژوند به قدرت تر همدی زایه لیکلی
.وو
. موبایل مې راواخیست شاهد ته مې زنګ وواهه
.چیداخبره مې ورته وکړه
. دشاهد نه لودن غلط شو
. ویل یې یاره خو تا به بیګاه کاته ویلی وای کنه
. زه درځم ته هغومره پام پری کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

.ماسره کور کی تول وسایل موجود وو
. خو نیا می پرینښودم چی ورته یی ولګوم

---

ویل یی مرګ راباندی نور مه سختوه پریده چی په همدومره درد کی مړه شم.
.ما ورنه دواړه لاسونه تاو کړ
. زاری می ورته وکړی چی ابۍ یوازی می مه پریږده
. نیا می په غیږ کی سر ایښی وو
. یو څو ددرد نه ډکی سلګی یی ووهلی
. او خپل روح یی حق ته وسپاره

انالله وانا الیه راجعون
دومره درد راباندی تیر شو چی تاسی یی نشی تصور کولای
.
.ماته دشاهد ددرد اندازه وشوه
.ځکه ددومره نږدی انسان دلاسه ورکول ډیر زیات درد لری
شاهد بیخی خراب شو په نشو واوړید بهر ته تګ هم ورڅخه پاتی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر وخت به په ساقی خانو اوبالا خانو کی ګرځیده
خو بیابه یی هم راته ویل یاره هیڅ خوشحالی نلرم

---

.
.زه هم درد په سمندر کی ترپښو ډوب وم
ځکه نیا می هم راڅخه ولاړه او دزړه یار می بیخی خه ندی
.
کور کی یوازی ژوند راته خوند نه راکاوه
اباسین ته می وویل:هغی ویل یاره روغتون کی که واوسو
. هغه به خه وی
ساعت به مو هم تیر وی اوبل ددی نه به هم بی غمه یی چی
هله زنګ راغی اوعملیات دی تیار به هملته یو چی عملیات
.وو ورزی به ما ورسره په همدی خبره فیصله وکړه
خه وو ژوند تیریدئ
دورځو نه یوه ورځ شاهد زنګ راوواهه چی کور ته راشه
.کار درسره لرم
.ما داباسین نه اجازه واخیسته ورغلم
.په منډه می ځان کور ته ورساوه
هر کله چی په دروازه ورننوتم نو کور کی می پوډری شاهد
.ناست دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سنګ کی یی سنبل ناسته وه.
راته ویی ویل:وروره زه په ژوند کی درنه یوخواهش لرم ماورته وویل څه

---

ویل یی ته به سنبل سره واده کوی.
زه دسنبل خواته ورغلم
. په تور پیکی می ورته لاس کش کړ
شاهد ته می وویل سمه ده.
خو ولی
ویل یی ولی ملی پریږده
داراته ووایه واده ورسره کوی کنه
اودسنبل مور پلار
ویل یی هغوی نشته سنبل صرف یو کاکا لري هغه ماته راپریږده
ماوویل سمه ده نو
. په هفته کی دننه دواده مراسم برابر شول
. واده نو دشاهد خپلوانو خه ګرم کړ
پوره پنځه ورځی یی سیل وکړ.
. زه خپله دسیل سخت مخالف وم
خو په خپلوانو می وس نه رسیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما او دسنبل دمینی نه ډک ژوند شروع سو.
ز ه به سهار دناشتی نه وروسته روغتون ته تلم .
اودشپی به راتلم.
وس نو زموږ ژوند په تول برابر شو

---

.
خو امکان لری دقسمت به راباندی داخوشحالی نه وه پیرزو.
یوه ورځ کی په کور دری زلمی راننوتل .
شاهد شاهد یی ویل
ماورته وویل ولی په شاهد څه شوي.
ویل یی شاهد ځان وژنه وکړه .
ماورته وویل:داڅه وایی ویل یی هو
په څو دقیقو کی پولیس زما تر کوره راورسیدل زما لاسونه یی وتړل او زندان ته یی بوتلم.
داوه زما دستړی ژوند قیصه بناغلی جنرال صاحب .
دجنرال صاب په سترګو کی اوښکی ډنډ شوی .
ویل یی خا نوځکه تا داڅو ورځی زه پرلپسی په بندی خونه کی دخفګان حالت کی وینم.
زما سر وځړید .
خفګان نو ځای نه راکوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما یار اوځان وژنه داسی انسان چی ټول عمر یی درسره
.تیر کړی وی
.هغه ولاړ
زه یی خالی وس تصویران ګورم او خپله مینه پری ماتوم

---

.
کاش هاغه مغروره هلک یو ځل بیا مغروره شوی وای چی
دژوند نه یی خوند اخیستی وای
.زه یی خوشی کړم
.کور ته لاړم حالات می خراب وو سنبل هم خفه وه
.ویل یی ته خوبه ځان نه وژنی کنه
ما ورته وویل :زه خه دوست نه یم ملګری می ځان له غمه
ووژلو ماهم باید دهغی پسی ځان وژلی وای سنبل وویل:نه
. ملګری دی کمزوری وو
.چی غم ته یی ځان تسلیم کړ
اوبل شاهد که ستا مرګ غوښتلای نو ستا واده یی ولی
. ماسره راکوی
.زه پوه شوم چی شاهد غوښتل زه ژوند وکړم
.ځکه یی لومړی زما واده دسنبل سره وکړ
او وروسته هغه ولاړ خو دژوند ټول خوندونه یی له ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

.سره يوړل
پای

راتلونکی برخه ډيرژر

(c) ketabton.com: The Digital Library

👇👇👇👇سیدادریس سادات

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

---

وکړ چی اوبه راوړي.
اوبه چی می ورته په مخ وپاشلی شاهد راپاسید سر یی زما
ټټر پوری کلک وموښلولو دبی وسۍ داخیری حد ژړا یی
وکړه.
ددرد ژړا په هر انسان تأثیر لری.
زما هم دسترګو نه بی دریغه اوښکی تویی شولی .
ما داحالت لیدلی وو.
ځکه دشاهد په حالت زما نه هیڅوک هم ډیر خه نه پوهیده .
نرسانو دغنی کاکا جسد دعملیات خونی نه راوباسلو.
او مرده خانی ته یی بوتللو .
دغنی کاکا په جنازه کی زیاتو خلکو ګډون وکړ .زما ماما هم
راغی .
هر کله چی مو جسد کور ته ویوړو نو نیا می ورته سخت
وژړل .
زما نیا او مادشاهد دوی په کور کی پوره پنځه کاله تیر کړی
وو.
په کور کی دنیا سره می سمبل هم ناسته وه .
اوف خدای خبر په داسی وخت کی دی بلا دلته څه کول.
خو دشاهد دوی ډیر زیات خپلوان وو ماما زامن کاکاګان او

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

. دتره زامن ځکه خو یی نو کور هم ډک وو
.شاهد دیوی تیږی په سر په زنګنو سر ایخی وو
زه ورسره څنګ کی کیناستم ورته ومی ویل:خلک وایی چی
.مړی ننګرهار ته ویوسو اوکه همدلته کابل کی یی خخ کړو
سر یی دزنګنو راوچت کړ سری سترګی یی له اوخکو ډکی
.وی
. دګریوان نه یی ونیولم یو کلکه سپیږه یی په دامخ ووهلم
ویل یی وسه پوری دی یی په کور کی ډوډیخوړله ټول عمر
.چی دی دچا نمک خوړلی ته هغی ته وس مړی وایی
ما سر ټیټ ونیولو دیو څه ځنډ څخه وروسته یی وویل پلار
.می وصیت کړی وو ما ننګرهار ته یوسئ
.او هلته می خاورو ته وسپارئ
تر راتلونکی برخی پوری شه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**